هفته نامه

دجهاد هنداره

مـرآة الجـهـاد

لومړی کال ، (٣٦) گنه چهارشنبه د ١٣٧٠هـ ش کال دثور ٢٥

دقیصار ولسوالی فتحه شوه

فاریاب ، میډیا :
دفاریاب څخه په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی زړورو مجاهدینو دحملو په ترڅ کی چی دملحد رژیم پر قواو یی دقیصار په ولسوالی کی ترسره کړی دی درژیم قواوی له ماتی سره مخامخ کړی اودقیصار ولسوالی چی دروسیی پولی ته نژدی پرته ده دمجاهدینو په لاس فتحه شوه .

درپوټ په اساس ددی جگړی په اوږدو کی درژیم دپلویانودبی ځایه مقاومت په نتیجه کی له سلو څخه زیات عسکر او منصبداران په هلاکت رسیدلی اوپه سلگونو تنه یی ژوبل شوی دی.برسیره پردی (٣٥٠) تنه عسکر او منصبداران له وسلو سره دمجاهدینو تراسارت لاندی راغلی دی .

(٨) مخ

مجاهـدین په گـردیز بانـدې دعمومي عمليـاتو لـه پاره تيارۍ نيسي

٨ مخ کي

په عربي اماراتو کی دحقاني صاحب نمائنده مولوي غازي مرجان په یوه مرکه کي وویل :

دخوست فتحه دلوی خدای (ج) ستر انعام اودمجاهدینو لپاره سترافتخار دی

په ٢ مخ کي

PROPERTY OF ACKU

دکابل په ښار کې دبمونو دوه چاودنې

کابل ، دثور ١١ مه :
دقوماندانانو شورا نظامی دفتر دمیدان ښار څخه دمجاهدینو دیوه قوماندان دپیغام په حواله خبر ورکړی چی دکابل ښار چریکی مجاهدینو دثور دمیاشتی په ١١ مه نیټه دکابل ښار ددهمزنگ په سیمه کی دشرابو په دوو دکانونو کی بمونه ځای پرځای کړی ؤچی په دی چاودنو کی دشرابو دواړه دوکانونه بیخی له منځه تللی دی .

رپوټ وایی چی ددی چاودنو له امله ددهمزنگ په سیمه کی دبریکوټ سینما اودهغی ترڅنگ دسوسن او کاروان هوټلونو زیاتی برخی ویجاړی شوی ، خو دپیښی دمرگ ژوبلی په باب تراوسه کوم موثق خبرندی ترلاسه شوی .

دهمزنگ دکابل ښار دګنه گوڼی څخه ډکه سیمه ده چی ددهمزنگ زوړ زندان اودزوسانود«علم اوفرهنگ!!»کور هم پدی سیمه کی موقعیت لری.

دغه رازدجلال اباد څخه په یوه‌رسیدلی رپوټ کی ویل شوی دی چی دثور دمیاشتی په ١٠ مه نیټه دجلا اباد دښار په شمالی خوا دبهسودو علاقه داری په مرکز کی دخاد په پنځمه مرکزی حوزه کی درژیم دخپل منځی مخالفینو لخوا دځای پر ځای شوی بم په یوه خطرناکه چاودنه کی زیات ځانی اومالی تاوان رسیدلی چی دقیق رپوټ یی نه دی ترلاسه شوی .

دشین ډنډ په هوایی ډگر کی یوه جیټ الوتکه رانسکوره شوه

فراه ،میډیا :
دفراه دولایت څخه قوماندان ملامحمد «وزیر » خبر ورکړی چی ددغه ولایت مجاهدینو دشینډنډ په هوایی ډگر باندی دثورپه ٩مه نیټه ددرندو توپونو ډزی وکړی چی ددی ډزوله امله درژیم یوه جیټ الوتکه دراکښته کیدو په وخت کی په هوایی ډگر کی رانسکوره شوه .

درپورټ مطابق ددی بریدونو په ترڅ کې دکمونستی رژیم دهوایی ډگر دځارنی ٢٧ تنه غړی وژل شوی او٢٢ تنه نور یی سخت ټپیان شوی دی .

خبر زیاتوی درژیم دمتقابلو ډزوپه نتیجه کی ٩ تنه مجاهدین هم ټپیان شول .

دافغانستان په راتلونکي ټولنه کې دټولنیزو اړیکو دوسایلو سمینار پیل شو

اسلام اباد ، دجهادهنداري خبریال :
دافغانستان دجهاددثقافتي شورا له خوا دافغانستان په راتلونکي ټولنه کي دټولنیزو اړیکو دوسایلو څلور ورځنی سمینار داسلام اباد په کاپیټال هوټل کي دشنبي په ورځ دثور دمیاشتي په ٢١ نیټه پیل شو.

خبریال زیاتوي چي دسمینار کار په رسمي توگه دورځي په یوولسو بجو دمحترم مولوي محمود درسوال له خوا دقران العظیم الشان دځو مبارکه ایاتونو په تلاوت سره شروع شو،وروسته دسمینار رئیس پوهاند حبیب الرحمان هاله ددغه سمینار داهدافو په هکله مفصلي خبري وکړي.وروسته دافغانستان دجهاد دثقافتي شورا مشر صباح الدین کشککي دسمینار په مناسبت خبري وکړي اوبیا دافغانستان اسلامي مؤقت حکومت دبیا ودانولو دچارو وزیر استاد برهان الدین رباني دسمینار برخه والو ته افتتاحیه وینا وکړه .

خبریال لیکي چي په دغه سمینار کي به چي دثور ٢١ - ٢٤ نیټي پوري دوام وکړي د٢٨ تنو پیاوړو لیکوالو له خوا دراتلونکي افغانستان دټولنیز ارتباط دوسایلو دبیلا بیلو برخو په هکله تحقیقي مقالي ولوستل‌شي‌اودلیکوالو اوڅیړونکو له خوا به پري په آزاده فضا کي بحث او توضیحي خبري وشي.

دغزنی ښاردکمربند پرپوستو باندې دمجاهدینو تعرضی بریدونه

غزنی ، دثور ١١ مه :
دقوماندانانوشورا نظامی دفتر دغزنی څخه دیوه رادیو یی پیغام په حواله رپوټ ورکوی چی مجاهدینو دثور دمیاشتی په ١١ مه نیټه دغزنی کلابندشوی ښار په کمربندی پوستو باندی یو تعرضی برید وکړ ، چی په نتیجه کی درژیم (٤) تنه منصبداران او (٩) تنه عسکر وژل شوی دی .

رپوټ وایی چی په دغه برید کی درژیم دعساکرو یو شمیر مورچی ویجاړی شوی دی .

همدارنگه نوموړی دفتر رپوټ ورکړی چی درژیم قواو دغزنی ښار دشاوخوا کمربندی پوستو څخه دمجاهدینو په مرکزونو باندی دثور په (٤) مه نیټه یوه تعرضی حمله پیل کړه چی دمجاهدینو دکلك مقاومت په واسطه دغه حمله په شاوتمبول شوه چی په نتیجه کی دکمونستی رژیم دملیشه و یو قوماندان،او(٨) تنه عسکر — ووژل شول.

رپوټ زیاتوی چی په دغه بریدکی درژیم یو عراده موټر دسپرلیو سره دمجاهدینو ددرندو وسلو دډزو له امله داور لمبه شو .

دقلات په ښار باندی د مجاهدینو له خوا برید وشو

کویټه ، میډیا:
دزابل ولایت څخه دمجاهدینو یوی منبع خبر ورکړی چی زړورومجاهدینو دثورد میاشتی په ١٢مه نیټه ددی ولایت پر مرکزقلات ښارباندی یولړبریالی عملیات ترسر کړل، ددی عملیاتو په نتیجه کی دمزدوررژیم یوزیات شمیر عساکر اوصاحب منصبان ووژل شول او٩ تنه له وسلوسره دمجاهدینو له خواپه اسارت ونیول شول .

همدارنگه دزابل ولایت څخه دیوه بل خبر له مخی دثورپه ١٧مه نیټه دمزدوررژیم هوایی قواو ددی ولایت دشاه جوی پر ولسوالی باندی چی دروسانو دوتلرلو موږدی څخه راپدی خوادمجاهدینو په لاس کی ده ، سخته وحشیانه بمباری وکړه چی په نتیجه کی دسیمی دخلکو (٣٥) دوکانونه وران شول ، (٦)کسه ولسی خلك شهیدان شوی او(٥)تنه نور ټپیان شوی

دوهلیکوپټررژیم مزدور کابل در بدخشان سرنگون گردید

میدیا ، ١٥ ثور :
طبق اطلاع یك منبع جهاد ی ، مجاهدین مستقر درمرکزولایت بدخشان با فیر سلاح های ثقیل وراکت دوهلیکوپټر اکمالاتی نظامی رژیم ملحد کابل راهنگامی که ازولایت بلخ وارد حریم هوایی بدخشان شده بود ، هدف قرار داده سرنگون ساختند .

درراپور گفته شده هلیکوپټر های مذکور که حامل سلاح ومهمات بود یکی در قریه (کهنه قشلان) درنزدیکی شهر فیض اباد مرکز ولایت بدخشان ودیگری درجنوب دریای (کوکچه) سقوط کرده وپیلوت های ان هردو هلاك شده اند .

راپور می افزاید : ازهلیکوپټر ساقط شده در (کهنه قشلان) ١٩٩صندوق مرمی زیکویك ، (٢١٠) صندوق مرمی دهشکه ، ٦٨ صندوق مرمی کربین ، (٢٧) صندوق مرمی کلاشینکوف ومقادیر زیادی سلاح وسایر انواع مهمات مختلف النوع بدست مجاهدین امده است .

مجاهدین هرات حمله بزرگ دشمن را دفع نمودند

درصفحه٧

درژیم دگزمې یو ټانک دسپرلیو سره تباه شو

دکابل په ولایت کی دملحد رژیم یو ټانك هغه وخت په ماین والوت چی دمجاهدینو لخوا په ایښودل شوی ماین وروخوت .

دقوماندانانو دشوراخبر ځای دجهاد هنداری خبریال ته ددغه مطلب دڅرگندولو په ترڅ کی زیاته کړه : چی مجاهدینو دکابل ولایت دکټه خیلو په سیمه کی چی دقلعه شانی اوکټه خیلو دپوستی لارورته تیرېری دوسایطو ضد دری ماینونه ځای په ځای کړل چی دهغو دچاودنی له امله درژیم دگزمی یو ټانك له سپرلیو سره له منځه لاړ.

دهند په شمال کې شدید طوفان اوسیلابونه

نوی ډیلی ، دثور ٢١ مه :
دهند په شمال ختیزه ایالتونو اسام ، چل پردیش ،اوتری پوره کی دیو لړ سختو طوفانونو له امله تقریبا ٣٠ کسان مړه او څه دپاسه ٢٠٠ کلی داوبو په توندو څپو کی لاهوشول .

دغه طوفان دبنگله دیش دسختو اوبی ساری طوفانونو یوه کړی معلومیږی ، دهند داسام ایالت په جنوبی برخه کی چی دبنگله دیش "دسهلیت"له سیمی سره نژدی واقع ده ، دسیند داوبو دزیاتوالی له امله شدیدسیلاب راغلی .

همدارنگه دخورا شدیدو وربښتنوله امله دهند په ټولو سیندونو کی اوبه زیاتی شوی ، اودسیلاب خطره وجود لری ، دیوه رسمی رپوټ مطابق ددی سیلابونو له امله تراوسه پوری ٢٠٠ کلی ډوب شوی،پوځ په امدادی کارونو باندی پیل کړی .

سرمقاله

بالسرای جنگی درخوست هیچگاه برخورد تبعیض آمیز نشده است

جهاد افغانستان روی آرمانهای والای اسلامی وملی مردم ما آغاز یافته وبا نثار قربانیهای بیشمار به هدف وآرمان بزرگ مردم مسلمان سرتاسر کشور افغانستان مبدل شده است ، جهاد واعلای کلمة الله درکشور درسرخط قربانیهای تمام مردم ما قرار گرفته وهمه مردم کشور ما بشمول پشتون ، تاجك، ازبك ،هزاره ،نورستانی وبلوچ وغیره بخاطر آن بدون تفکیك ملیت ، مذهب ،نسل ونژاد تحت لوای اسلام بر ضد کفر وطاغوت می جنگند .

درجبهات جهادی درسرتاسر کشور برادران ملیت ها واقوام مختلف مسلمان کشور بدون تبعیض وتعصب درپرتو ارشادات پرنور الهی و نبوی اخوت اسلامی دوش بدوش ودرکنار هم علیه کفر وقوای کمونستی می جنگند برادران

٨ مخ

دمجاهـدینو اوقوماندانانو په منځ کې اختلاف نشته.که اختلاف وي،نوهغه په دسیاسي لیډرانوتر منځ وي .

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتأسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

چه کسی خواهان صلح است ؟ مجاهدین یا نجیب!

احمد ضیا « رحیمزی »

صلح و امنیت ازبنیادی ترین نیازها وبا ارزشترین پدیده برای بشر است که در مسیر ترقی وپیشرفت جوامع نقش عمده را ایفا می کند ، ولی متاسفانه درعصر ماشینی امروز تعدادی از جوامع بشری به شکلی از اشکال ازاین ضرورت بنیادی وبا ارزش خویش محروم گشته وخواسته یا ناخواسته به دامنه جنگ خانمانسوزی کشانیده شده اند .

ملت مظلوم ودردیده ماهم ازسیزده سال باینسو درگیر مبارزه با قوای متجاوز وغلامان دون همت انها بوده وطی همین ملت است که در آتش خانمانسوز جنگ تحمیل شده اجانب می سوزد. رژیم دست نشانده روس ها درکابل به سردمداری مشتی از عناصر خود فروخته ومزدور درطول ۱۳ سال گذشته به حمایه مستقیم ابر قدرت وحشی عصر (روسیه) از انجام هیچ نوع جنایت ودهشت درمقابل ملت بی دفاع ومسلمان افغانستان دریغ نور زیدند ،ولی با ان همه ظلم ووحشی گری نتوانستند ، ملت ما را از مسیر وهدف خود در مبارزه علیه متجاوزین ومزدوران ایشان باز گردانند ! درطول ۱۳ سال چهره های مزدور یکی پی دیگری عوض شدند زمام اقتدار رابا حمایه مستقیم نظامی و سیاسی اربابان شان بلست گرفتند وهرکدام انها بعد ازانکه ازهیچ نوع ظلم ، تعدی وجنایت برملت مسلمان مادریغ نورزیدند ، بدست اربابان سفاك شان راهی دیار عدم گردیدند ، تابالاخره نجیب ، قاتل صدها هزار تن ازهموطنان مظلوم ما(دردستگاه جهنمی خاد) رشته اقتدار را دراختیار گرفت .

نجیب که ید طولایی درنیرنگ بازی دارد ، با عنوان کردن یك سلسله مسایل دروغین از قبیل « مصالحه ملی !! » «تفاهم با همی"تفاهم با قوماندانان نیروهای مخالف "و ... از روز اول اقتدارش تاکنون می خواهد پرده بر جنایات نابخشودنی خود واسلاف مزدورش بگذارد ، وخودرا داعی و حامی صلح ومصالحت جازند!

ایا وی می تواند بااین گونه درامه بازی ها ودروغ بافی ها اذهان میلیون ها هموطن اوراه ومظلوم ماراکه درنتیجه جنایات ووحشی گری های نجیب ، اسلاف ویادارانش امروز درگوشه وکنار جهان اواره وسرگردان اند قناعت دهد !

دراین روزها که مجاهدین قهرمان ما با وارد کردن ضربه های کشنده بر پیکر پوسیده رژیم جانی ومزدورکابل سقوط محتوم ان را نزدیکتر وسریعتر ساخته ، نجیب رئیس رژیم مزدور کابل یکبار دیگر فریاد صلح واشتی را سرداده وازبه قول خودش از اپوزیسیون مسلح !! دعوت بعمل می اورد تابیایند وباوی عقب میز مذاکره بنشینند .

نجیب که از یکسو ازمداخله نظامی گران پاکستان !! درامور داخلی افغانستان شکایت سرداده ، از جانب دیگر به سران تنظیم های جهادی درپشاور پیشنهاد

درصفحه ۷

دخوست فتحه دلوی خدای(ج) ستر انعام او دمجاهدینو لپاره ستر افتخار دی

مرکه کوونکي : محمد سرور « صدیق مل »

څه موده دمخه دحقانی صاحب له خوا په اماراتو کی نمائنده مولوی غازی مرجان دیوی لنډی مودی لپاره پاکستان ته تشریف راوړ ، موږله موقع نه په استفادی دده سره یوه مرکه کړی ، چی محترمو لوستونکو ته یی وړاندی کوو :

پوښتنه :- محترم مولوی صاحب لطفاً ړومبی خپل ځان محترمولوستونکو ته ورمعرفی کړی ؟

ځواب :- بسم الله الرحمن الرحیم زه مولوی غازی مرجان دپکتیا ولایت دخوست دلکنو په کلی کی په ۱۳۲۵هـ ش کال زیږیدلی یم له ابتدا څخه می ددینی علومو په زده کړه پیل وکړ ، اوپه خپل کلی کی می دمولوی صاحب بادشاه زرین څخه ابتدائی دینی کتابونه ولوستل اوپه کال ۱۳۳۹هـ ش کال کی می ددینی علومو دزده کړی لپاره نوروسیمو ته سفروکړ ، زیاتره کتابونه می دمیرمنډی په مدرسه کی ولوستل تقریبا څلورکاله می دلوګر په ولایت دخرخ په منطقه کی ددینی علومو زده کړه وکړه په کال ۱۳۵۲هـ ش می وړه دوره په څرخ کی سرته ورسوله اودحدیثو لویی دوری لپاره می داسلامی هیواد پاکستان (دکوهاټ دانجمن تعلیم القران) په مدرسه کی داخله وکړه اوله نوموړی مدرسی څخه می دفراغت سند ترلاسه کړ، بیرته وطن ته په رسیدومی ددینی علومو په تدریسی چارو پیل وکړ ، دوه کاله دخپل کلی اودوه کاله نورمی دبهګی په مدرسه کی تدریسی دندی ته دوام ورکړ .

دثور داومی ۱۳۵۷ هـ ش دخونړی اوکرغیړنی کودتا درامنځته کیدو نه ۹ میاشتی وروسته می پاکستان ته هجرت راوکړ څلور میاشتی وروسته می عربو ته سفر وکړ .

داچی زه دجهاد له صحنی لیری شوم اوپه عملی جهاد کی می برخه وانه خستی شوه نوله همدی کبله می په اماراتو کی دهغو وروڼو سره چی حقانی صاحب دکومکو دتهولولو لپاره رالیږلی وو ، مرسته او همکاری پیل کړه چی وروسته دحقانی صاحب له خواهلته په عربو کښی دنماینده په صفت مقررشوم اوداپنځه یا شپږ کاله به کیږی چی موږ هلته دمجاهدینو لپاره دمرستو دجمع کولو لپاره یو دفترخلاص کړیدی .

پوښتنه : محترم مولوی صاحب دخوست دفتحی په باب ستاسی تأثرات څه دی؟

ځواب : الحمدلله کله چی موږ دفتحی زیری ترلاسه کړ نو هغه دمازدیگر پنځه بجی وی نوداول ځل لپاره مودایقین نه کیده چی دومره لویه فتحه اوبیا په دومره کمه موده کی دی زموږ دمجاهدینو په نصیب شوی وی خوکله چی موږله خپلو دفترونو سره تلیفونی تماسونه ونیول ، اوپدی باب پوره مطمئن شوو نو دخپلو خوښیو څرګند ونه په الفاظو نشو کولای خوموږ دخوست فتحه په ښه توګه ولمانځله ، عرب اوخپل افغانی وروڼو ته مو زیری ورکړل هغه وخت زموږ په دفتر ګڼه ګونه جوړه وه ، خلکو به موږ ته مبارکی راکولی .

دخوست دلويي فتحي په باب ټولو مجاهدينو مهاجرينو اوټولو مسلمانانو ته دزړه له کومي مبارکي وايم ، په ځانګړي توګه هغو کورنيو ته چي پدي فتحه کي يي ورونه ، زامن ، خپلوان دقرباني ميدان ته وړاندي کړي اوپه خپلو سروينو يي مجاهدينو ته داعظيم افتخار ګټلي دي

دخوست فتحه دلوی خدای (ج) ستر انعام اواکرام دی اوزموږ مجاهدینو لپاره ستر افتخار دی واقعاً دخوست فتحه له خپل ځانه سره ګڼ شمیر ارزښتونه لری ، لوی خدای (ج) دی وکړی چی داوړ دفتوحاتو زیری باربار واورو.زه دخوست دلویی فتحی په باب ټولو مجاهدینو مهاجرینو اوټولو مسلمانانو ته دزړه له کومی مبارکی وایم ، په ځانګړی توګه هغو کورنیو ته چی پدی فتحه کی یی وروڼه ، زامن ، خپلوان دقربانی میدان ته وړاندی کړی اوپه خپلو سرو وینو یی مجاهدینو ته دا عظیم افتخار ګټلی دی .

پوښتنه : دخوست دفتحی په باب په اماراتو کی دعربو وروڼو تأثرات څه وړوو ؟

ځواب : کله چی موږ دخوست دفتحی په باب مطمئن شوو ، نو عربو وروڼو ته مو په تیلیفون مبارکی وروليږلی ، دخبریدو سره سم دعربو وروڼو ګڼه ګونه جوړه شوه اوهلته به یی موږته مبارکی راکولی ، ان تردی چی خپله عربانو نورو دوستانو ته زیری ورلیږل موږداسی حس کوله چی زموږ څخه دعربو وروڼو خوښی زیاته ده اودمجاهدینو لپاره به یی دلازیاتو بریالیتوبونو دعاګانی پیل کړی ، نو عرب وروڼه دخوست دفتحی په باب بیخی زیات خوشحال اوخوښ وو .

پوښتنه : ستاسی په فکر دخلیج مسئلی په دوران کی له مجاهدواو مهاجرو افغانانو سره په مرستو کی کوم بدلون راغلی وو ؟

ځواب : کومو خلکو چی واقعاً دافغانستان له مقدس جهاد سره علاقه درلوده اوپه اهمیت یی پوه وو نوهغه ولو که په هره سطحه وو ، خو دخلیج دمسئلی په دوران کی موږدهغوی په کومکونو کی کوم بدلون نده حس کړی ، مرستویی دوام درلود .

اما عامه وضعه داډول وه چی عربو وروڼو به ویل چی اوس دکویټ خلك زموږ دمرستو زیات مستحق دی نو هغوی خپل کومکونه متوقف کړل اودکویټ دازادولو څخه وړاندی وضعه دی ځای ته رسیدلی وه چی موږهلته دخپل دفتر مصارف نشوای پوره کولای ، خودعربو وروڼو کومکونه هغه وخت زیات محدود شول کله چی زموږدمجاهدینو بعضی مشرانو دصدام تائید اعلان کړ، په ابتدا کی خو زموږ ټولو مشرانو دعربو داغوښتنه (چی عراق دی کویټ خوشی کړی) تائید-وله اوددوی له دی معقول موقف څخه یی دفاع کوله خو دامریکی دقواوو دراتلو سره دځینو مشرانو موقف بدل شو چی دی مسئلی دمجاهدینو سره په مرستو ستره اغیزه وکړه خوکله چی عرب دحقانی صاحب له موقف اودریځ څخه خبرشول نو هغوی زموږ سره خپلو مرستو ته دوام ورکړ .

پوښتنه : محترمو تاسی اوستاسی په څیر نور افغانی وروڼه هلته په عربو کی دجهاد سره څه وړ مرستی کولای شی ، سره له دی چی دعملی جهادله صحنی څخه لیری یاستی ؟

ځواب : زموږ افغانی وروڼه هلته دیو لړ مشکلاتو سره مخامخ دی ، چی له یوی خوا ورته کارونه نه پیدا کیږی اوله بلی خوا یی دمزدوری پیسی کمی دی ، خوددی ټولو مشکلاتو باوجود زموږ افغانی وروڼه دخپل وس په چوکاټ کی مجاهدینوته خپلی مالی مرستی رالیږی ، که څه هم هغوی په عربو کی دی خو زړونه یی دمجاهدینو سره یو ځای په سنګر کی دی اویو شمیر داسی وروڼه هم شته چی افغانستان اومجاهدین یی هیر کړیدی .

پوښتنه : محترما دمولوی صاحب جلال الدین حقانی دفرهنګی ټولنی دنشراتو په باب څه ویل غواړی ؟

ځواب : دفرهنګی ټولنی خدمتونه واقعاً دستاینی وړدی ،اوپه موجوده وخت کی ورته سخته اړتیا لرو ، هسی په عامه توګه دخلکو دمعنویاتو اواذهانو دروښانولو لپاره فرهنګی کارونه مهم رول لری ، حقانی صاحب که له یوی خوا ستر مجاهد اوجهادی کارنامی یی دستاینی وړدی ، نو له بلی خوا دفرهنګی ټولنی دفعالولو اقدام یی دډیری ستاینی وړدی ترڅو له دی لاری دمجاهدینو ویاړلی کارنامی خوندی وساتل شی ، اوله بلی خوا ددښمنانو

په اوم مخ کي

اتمه برخه : په افغانستان کی دکي ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا ، کام ، خاد ، واد - فعالیتونه تشکیلات اوجنایات

عبدالوکیل

د۱۳۵۲ هـ ش کال دسرطان ۲٦ نیټی بدلون هغه کودتا وه چی د ۱۳۵۷ هـ ش کال دثور ۷ نیټی خونړی کودتا ته یی لار هواره کړه اودروسانو سره دداود نظامی ،اقتصادی اوفرهنگی اړیکو ټینگښت نور هم افراطی اوخطر ناك شول .

ددولت ټولی ملکی خصوصا نظامی ساحی په روسی مشاورینو ډکی شوی اوخبره دی ته ورسیده چی په افغانستان کي به افغانی پیلوټانو دروسانو په مستقیمه قومانده سره تمرینی الوتنی ترسره کولی .

داود له کودتا څخه وروسته په عمومی ډول سره په سیاسی وضعه او افکارو کي تغیرات رامنځ ته شول اودافغانستان ولس اوسیاسی سازمانونو لپاره دسیاسی قدرت نیول نسبتاً عادی مسله وگرځیده .

داود په هیواد کی په ظاهری ډول سره سیاسی فعالیتونه منع کړل خو سخت ژور او مهم شول ده د«ملی انقلاب » په نوم گوند جوړکړ خوڅرنگه چی له پاسه جوړشوی ؤ نوځکه یی رول او څواك هم کم ؤ او دداود دله منځه تللو سره سم دشگو بند په څیر ړنگ شو (پخوادي چي داود دملی انقلاب په نوم گوند اعلان کړی دخلکو په منځ کي داسی هنگامه وه چی داود دملی غورځنگ په نوم گوند اعلانوی ، اما داود دخپل گوند نوم دملی انقلاب په نوم ونوماوه خو دخلکو په منځ کي یی دملی غورځنگ نوم هم شهرت پیدا کړ)

دداود له کودتا څخه وروسته کی ، جی ، بی دخلق اوپرچم ډلو لپاره دسیاسی قدرت نیولو یوازینی لاره دمسلحو قواو (کودتا) په اړوند مشخصه اوتعین کړه اودواړو مزدورو ډلو په نیمه علنی ډول سره ټول امکانات پکار واچول دوی دکورنیو چارو په وزارت خصوصا اردو (ملی دفاع وزارت) کي وسیع گوندی سازمانونه جوړکړل خو په اردو کي دپرچمیانو په نسبت دخلقیانو نظامی سازمان غړو کمیت ډیر ؤ .

دروسانو سره دداود نږدی کیدل اودکی ، جی ، بی په ناپاکو لاسو جوړو شویو ډلو (پرچم اوخلق) سره دهغه همکاری او هغوی ته په حکومت کي زیاته برخه ورکول اوداسلامی شخصیتونو اوسازمانونو تهدید او خپل اسلام اودافغانستان اسلامی خاوری اوخپلواکی ته دخطرزنگ ؤ اودافغانستان مسلمان او وطن دوست ولس یی په تشویش اواضطراب کي واچاوه نوځکه په ۱۳۵٤ هـ ش کال کی داسلامی تحریك څواکونو دافغانستان په گوټ گوټ کي دداود اودخلق اوپرچم ډلو گډ رژیم دراپرځونی په منظور وسله وال قیام وکړ خودناکامی سره مخامخ شو. داود دغه مقاومت اواسلامی وسله وال قیام دیوه جدی اخطار اوخطرپه توگه وگاڼه ، ددی په څنگ کی داود دروسانو اودهغو مزدورانو (خلق اوپرچم ډلی) دپټو اوخطرناکو فعالیتونو څخه هم خبرتیا پیدا کړه نوځکه یی ورو په ورو دچپ څخه ښی ته په تگ پیل وکړ اوله کابینی څخه یی دخلق اوپرچم ډلو غړو او ددوی طرفدارانو په شړلو پیل وکړ ، بالاخره په

> دداود له کودتا څخه وروسته کي ، جي ، بي دخلق اوپرچم ډلو لپاره دسیاسي قدرت نیولو یوازیني لاره دمسلحو قواو (کودتا) په اړوند مشخصه اوتعین کړه

۱۳۵٦ هـ ش کال کی یی په ډاگه اوعلنی ډول سره دروسانو او دهغوی مزدورو ډلو (خلق اوپرچم) په مقابل کي قرار ونیوه خو وخت له موقع څخه تیر او داود دکی ، جی ، بی په خونخوار ډنډ کي په ډوبیدو شوی ؤ .

داود د ۱۳۵٦ هـ ش کال دحمل په ۲۳ نیټه روس ته سفر وکړ په هغه ناسته کي چي دداود او بریژنیف ترمنځ وشوه دبریژنیف لخوا داسی مسایل مطرح شول چي په بین المللی اړیکو کي ددوخپلواکو هیوادونو ترمنځ یي مطرح کول معمول نه ؤ داود دبریژنیف دامرانه خبرو په اوریدو سره په غوسه شو خو هغه وخت چي په حقیقت کی یی دداود دواړه لاسونه ترشاورتړلی ؤ او بریژنیف داسی ورته وښودله چی که چیری دروسانو په لار ولاړ نشی دخطر سره به مخامخ شی .

خوکله چی افغانستان ته راستون شو په سیاسی تگ لاره کي یی نور بدلونونه هم څرگند شول .

داود ایران ، سعودی عربستان اویو شمیر نورو عربي هیوادونو او پاکستان ته رسمی سفر وکړ او یو شمیر قراردادونه یي ورسره لاسلیك کړل .

دداود دغه سفر روسانو ته ربښتینی تکان ورکړ او کی ،جی ، بی فوراً په ۱۳۵٦ هـ ش کال دسرطان په میاشت کي دخلق اوپرچم ډلی په یوه ورځ کي په سازمانی اوتشکیلاتی لحاظ سره واحدی اویو کړلی .

(روسانو هڅه کوله چی دخلق اوپرچم ډلو نظامی سازمانو نه سره گډ کړی خو امین ددي کار مخالفت کاوه نو ځکه ددواړو ډلو نظامی څانگی په سازمانی لحاظ د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی ترشپږمی نیټی پوری سره واحدی نه شوی)

ددی وحدت څخه دصفوفو(عادی غړی) یوه غړی هم خبر نه درلود خو کله چی یو شمیر خلقیانو اوپرچمیانو پوښتنه وکړه چی

داکوم عوامل و چی لس کاله مو دیوه اوبل پر ضد تبلیغات کول او جلا سازمانونه مو درلود ل اوپه هیڅ صورت وحدت نه کیده

اما اوس داسی ناڅاپی او په ډیره تعجب اوره طریقه په یوه ورځ کي ترسره شو ، نو

اړونده گوندی اشخاصو په ډیر عادی ډول سره ټولو پوښتونکو ته څرگنده کړه چی دادروسانو (دوی شوروی ملگری وویل) غوښتنه اوتاکید ؤ .

نور بیا

کارباید اهل کارته وسپارل شي

مولانا عبدالمجید

هرانسان دخپل ژوندانه دښه سمون لپاره په ځانگړی توگه نشی کولای چی ټول انسانی ضرورتونه پخپله برابر کړی نوټولنی اواجتماع ته اړتیا پیداکیږی ترڅوچه دژوندانه بیلا بیل اړخونه دده سره سنبال کړی پس په ډاگه څرگند بیږی چی هرفرد دنورو افرادو مرستی ته اړ دی چی په دی توگه هر انسان دبل لپاره مرستندوی جوړیږی ځکه یو انسان په یو وخت ډیرو شیانو ته محتاج دی لکه جامی ،خوراك ، تداوی ... اوهیڅ انسان نشی توانیدای چی په یووخت دغه ټول کارونه یواځی ترسره کړی ، څنگه چی جامعه دافرادو مجموعی څخه عبارت ده اوفرد جامعی ته اړه لری اوله ټولنی څخه گوښی ژوند کول چندان درست کارندی ځکه دانسان مثال په ټولنه کی داسی دی لکه دکب (ماهی) مثال په اوبو کی اودایو حقیقت دی چی کب داوبو څخه بهر کړیشی نومری دارنگه که انسان دټولنی څخه ووځی نودمړی حیثیت به ولری اودمسلمانانو دټولنی اوجامعی پریښودل خوشرعاًناروا او ناجایز دی .

هره ټولنه دخپلو کارونو دسرته رسولو لپاره دکار تقسیم اووخت ته اړه لری ځکه که چیرته کارتقسیم نشی نو زیاته گډوډی اورکود به رامنځ ته شی چی همدغه گډوډی اورکود بیا دفساد اومشکلاتو لامل کیږی کله چی دوظیفوویشلو ته جدی ضرورت ثابت شو نودلته دی چی خلکو ته دوظایفو دسپارلو اساسی مسئله رامنځ ته کیږی او داپوښتنه رامخی ته کیږی چی په یوه اسلامی ټولنه کی کارباید چاته وسپارل شی ؟

الله (ج) تعالی پخپل کتاب قرآن مجید کی فرمایی : ترجمه « یقیناً الله (ج) تاسو ته امرکوی دسپارلو دامانتونو خپلو خاوندانو ته ، اوکله چی تاسو فیصله کوی دخلکو په منځ کی نو فیصله وکړی په انصاف اوعدالت سره (سورة النسا ۵۸ آیت) نو ددی آیت څخه په استنباط سره یودډیرو مهمو امانتونو څخه هغه دکار سپارل دی خپلو لایقو اوداهلیت وړکسانو ته او یوه دډیرو مهمو فیصلو څخه دخلکو په منځ کی دکار اووظیفی ویشلو اوسپارلو فیصله ده چی هر حقدار ته باید هماغه وظیفه ورکړیشی دکومی چی داشخص عقلاًاوشرعاً مستحق اودښه ترسره کولولپاره یی جوگه دی داخویو انکارنه منونکی حقیقت دی چی په یوه اسلامی ټولنه کی به هر څه اسلامی وی اودبلی عقیدی ،نظریی اوعقلی فیصلی ته به پکی هیڅ مجال نه وی ځکه داسلام دین په هر اړخیزه توگه یو کامل اومکمل دین دی چی ددنیا اواخرت دواړو لپاره په جوته اواکمله توگه کفایت کوونکی دی اوهیڅ ډول کمی پکی

> په یوه اسلامي ټولنه کي به هرڅه اسلامي وي اودبلي عقیدي ، نظریي اوعقلي فیصلي ته به پکی هیڅ مجال نه وي ځکه داسلام دین په هر اړخیزه توگه یو کامل اومکمل دین دی چی ددنیا او آخرت دواړو لپاره په جوته او اکمله توگه کفایت کوونکی دی اوهیڅ ډول کمی پکي وجود نلري

وجود نلری نو باید چی هر مستحق ته خپل حق وسپارل شی نوْ دوظیفی اوکارچی هرڅوك ښه لایق وی هماغه ته باید ورکړ شی په پورتنی آیت مبارك کی خپلولی ، قومیت ، اووطنیت ته هیڅ ډول رمزنشته چی سړی دی کارخپلوانو اودوستانو، کاکا ، ماما... ته ورپه گوته کړی اویاداچی دفیصلی په وخت کی دی دخپلوانو ... په گټه فیصله وکړی او که چیری کاردکار وراشخاصو ته ونه سپارل شی اوقومیت ، عصبیت ، وطنیت ،خپل غرضی ... پکی وپالل شی نودلته بیا دوه موضوعات راپیدا کیږی یوداچی کارونه به گډوډ او معطل شی ځکه یو سړی چی نه پوهیږی نو څرنگه به خپل کارونه مخ په وړاندی بوځی نوطبیعی ده چی په لوړو او ژورو به یی ورو شړی چی بالاخره به یی په یوه ژوره کنده کی ورپری باسی ځکه بی علمه اوناپوهه دړانده مثال لری او ړوند چی په یوه نابلده دښته کی پریښودل شی چی ځوزان ، ونی ، بوټی ،لوړی ،ژوری ولری ددی ټولو څخه په تصادفی ډول همیشه لپاره سالم نشی وتلی حتمی به په یو مصیبت اخته کیږی .

اوبله داده چی دخدای (ج) دحکم څخه دسرغړونی په سبب دخدایتعالی دغضب جوگه کیږی اوڅوك چی دپروردگار دقهر وړشی نوهغه به څنگه حقیقی بری ترلاسه کړی .

«نور بیا»

دکابل رژیم دجاسوسی دستگاه یو لوړرتبه افسر ونیول شو

دجنگ ورځپاڼه ، دثور ۱۷ :

دکابل رژیم دجاسوسی اطلاعاتو (خاد) یو لوړ رتبه افسر په پیښور کی دپاکستان دامنیتی مقاماتو له خوا دجاسوسی فعالیتونو دترسره کولو په وخت کی بالفعل ونیول شو .

دعینی شاهدانو اوپاکستانی مقاماتو دوینا له مخی ، نذیرحسین دکابل رژیم دجاسوسی کارونو (خاد) لوړرتبه افسرؤ چی دخیبر په روغتون کی په جاسوسی کارونو بوخت ؤ ، دپاکستان دامنیتی مقاماتو له خوا کشف اوونیول شو .

منابعو ویلی دی چی نوموړی افسر ترتحقیق لاندی دی ترڅو دجاسوسی ډلی اصلی ریښه ومومی اوله منځه یی یوسی .

آزادي که خیراتي وي یادچامهرباني وي
افتخار به پرې ونه کا که همت یې افغاني وي
قرباني چې پکې نه وي هغه کله لوی اختروي
آزادي سره تړلې ډیره لویه قرباني وي

ترانه

حیدري

سپین کفن په غاړه دجهاد سنگرته ځمه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه
ننگ لرم غیرت لرم ، لوړشان اوشوکت لرم
ځم دننگ په توره ددښمن سرپریکومه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه
زه مجاهد ځوان یمه ، زه باتور افغان یمه
ډکو کارنامونه زه گلگون دفترلرمه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه
موږروسان شړلی دي ، ډیر مو ځغلولی دي
زه مقابلی ته لوی افغان تبرلرمه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه
زه دشهادت مقام ، غواړمه په دین اسلام
ډکو هدیرو ته چې دویاړ سفرکومه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه
ځاځکی ځاځکی وینی مې ، لویه خدایه وینی مې
ستارضا لپاره په اسلام سرورکومه
ځمه له وطنه مال اوسر قربانومه
وکړه حیدری ناره ، ټول جهان ته په ښکاره
زه دحق قانون ته مجاهد عسکرلرمه
ځمه له وطنه مال اوسرقربانومه

تکل

عوض الدین صدیقي

هغه چې یتیمان یې بولي

سخته گنه گونه وه داسې چې بیخی سرك یې بند کړی ؤ دهر یوه ترځنگ یوماشوم دریدلی ؤ ، ماشومان بیا داسې دیخی هواله لاسه غونج شوی ووتابه وی چې همداوس دي له یخواویو راایستلی ، باید هم همداسې وی ځکه له یو څو پرته چې زاړه اوخیرن پراشوتی جمپر یې اغوستی ؤ دنورویې یو پرتوگ اوکمیس په تن ؤ ، ټوټه ، ټوټه پلاستیکی موزی اوبوټونه یې په پښو و او یو دوه تنه خوبې په دې یخه هوا کې خویشته ځمکه باندی پښنی یبله دریدلی ؤ ، چې خیرو ته به یې ښه ځیر شوی داسې معلومیده چې په میاشتو ، میاشتو یې نه دي لمبلی ، دټولو پرسر ، ویښتو ، لاسونو باندی خاوری امباروی ، ربښتیا جامی یې هم داسې خیرنی وی چې خپل اصلی رنگ یې بایللی ؤ ، داکثرو گریوانونه شکیدلی ؤ ، ښایی څوك به یې نه و چې دمیني او محبت لاس وربانډی راکش کړی ، څوك به یی نه ؤ چې په مینه یې ښکل کړی ټول هك حیران ښکاریدل ، هلته دهیڅ شی سره اشنا نه ؤ ، که منسوبو شیان به یې شنگ شول ترځنگ تیرشول له ویری به لا غونج شول اوکه دسایسته کورونو خواته به یې ولیدل زریه یې سترگی تیتی کړی اوداسې به یې انگیرله چې ښایی دهغوی خواته لیدل هم منع وی ، حتی دهغو سړیو خواته یې هم په ځیر ، ځیر کتل چې دوی یې له لاسونو نیولی ؤ ، ښایی هغه به یې هم نږدی خپلوان نه ؤ ، دهغوی سره هم نا آشنا ؤ ټولو دهغه سپین سری مامور خواته چې ددروازی ترځنگ په جگ ځای باندی دریدلی ؤ سترگی نیولی وی اوبیا چې دکوم یوه نوم به یې واخیست دگنې ، گونې له منځ څخه به په ډیر تکلیف راووت اوځان به یې دهغه مامور څنگ ته رساوه ، خوددې گنې گونې څخه لر. لرې یوه تورسرې دیوه دیواله ترځنگ ناسته وه ترځنگ یې ورکوټې زوی دریدلی ؤ په لاس کی وړه شانی کتابچه وه زوی یې څو ځلی دگنې گونې منځ ته ورننوت خو بیرته به نامراده راستون شو . لس بجی شولی یوولس بجی شوی او اخر غرمه شوه خو دزړه مراد یې حاصل نشو داسې ښکاریده چې بیخی دغرمی د ډوډۍ فکر ورسره نه ؤ خو ښایی چې ورسره عادت شوی به وه یاداچی داسې غم به په سر اخیستی وه چې بیخی دغرمی د ډوډۍ په فکر کی به نه وه زوی به یې دسترگو لاندی دهغه تبنگ خواته چې دکور خو تاونه تری ختل وروليدل ، خو دهغو داخستلو توان یې نه درلود دمور ترځنگ به راغی ، په ځمکه ، ځمکه به یې ځان واهه او پیسی به یې تری غوښتی ، خو موریې هیڅ نشو ورسره کولی ښایی همدابه یې وس ؤ چې اوښکی و څڅوی اوبس .

گنه گونه هماغسې زیاته وه ، یو دوه تنه می ولیدل چې مؤقتی موسکایی په شونډو وه اوله گنې گونې څخه دکور خواته روان شول نور ټول همداسې په تمه دریدلی ؤ ، دټولو له څیرو داسې ښکاریده چې له یوه دایمی غم سره لاس اوگریوان دی ، داټول هغه ماشومان وچې دخدای (ج) پرته یې په دې دنیا بله اسره نه وه ، دژړا او ویر پرته یې خوشحالی نه وه لیدلی ، داټول هغه تنکی گلونه ؤ چې دکوکو اوغمونو سره رالوی شوی ؤ هغه چې یتمیان یې بولی !!

ملا اسدالله حنیفي

دصدق په څپو کې

ملحده ! راته تېنگ شه له حملو سره درځو
دالله اکبر له بدرگو سره درځو
تکبیر موزمزمه کړله حجرې اوله جومات نه
دصدق په څپو کې ارادو سره درځو
لښکر دذوالجلال یو داسلام دپاره جنگ کړو
دسره ښکیلاك نوکره زلزلو سره درځو
دخدای (ج) په دین ایثار ته راوتلي په ربښتیا یو
صفونه موتړلي قافلو سره درځو
جهاد اوشهادت کې مو ارزو دخدای (ج) رضا ده
نوځکه مقابل ته خندیدوسره درځو
ترهغه به جنگیږو څودې جرړې غوڅې نکړو
مومن او افغانان یوله جذبو سره درځو
نه یأس شته دی،نه ډاراونه احساس دبزدلۍ
زمري ددنگو غرویو حماسو سره درځو
ورځه باداردې وپوښته زموږ له شجاعته
په نره په میړانه سرو لمبو سره درځو
ترهغه به کښیننو څو موساوي په بدن کې
ملحده خبردارشه ولولوسره درځو
دازه یوازې نه یم حنیفیان راسره ډیردي
تیارې به دې کړو ماتې له ډیوو سره درځو

دیتیم اوښکې

دکاروان لیکنه

دایران دمشهورې شاعرې پروین اعتصامې دیوه شعر په الهام

په یوه ښکلی او مغرور اس سپور ؤ ، ټوله لاره له خلکو نه ډکه وه چې رانږدی شو نو خلکو چیغی کړی :
عمردې ډیر شه پاچا عمردې ډیرشه پاچا !
خلکو غنچی غنچی گلونه پری وشیندل ټوله لاره له گلونو ډکه شوه ډیر گلونه دپاچا دمغرور اس تر پښو لاندی شول لمر هم خپلی زرینی وړانگی دپاچا پر تندی وشیندلی ، لکه چې استقبال یې کوی اولکه چې پر تندی یې ښکلوی دپاچا دتاج غمیو دخلکو سترگی ویریښولی ، یوه یتیم دپاچا دتاج په غمیو کې سترگی وگنډلی دتاج غمی ځلیدل ته به وایی په یتیم پوری خاندی یتیم په ډیری حیرانۍ پوښتنه وکړه :
داځلیدونکي څه شی دي ؟!
یوه ځواب ورکړ :
« مور څه پوهیږو چې داځلیدونکی څه شی دی ؟ خوډیر قیمتی شی به وی»

یوه زړه بوډۍ دیتیم خواته راغله اوپه ډیره ویرجنه لهجه یې ورته وویل :
بچیه ته دانه پیژنی ؟! یتیم وویل :
نه ادی جانی
دبوډۍ په سترگو کې اوښکی راغلی یتیم دتاج له غمیو نه دبوډۍ اوښکو ته سترگی واړولی بوډۍ په ژرغونی غږوویل :
بچیه داستا اوښکی دي ، داستا دزړه وینی دي اودازما اوښکی دي اوزما دزړه وینی دي بوډۍ یوسوړ اسویلی وکیښ ، دیتیم زړه لکه چینه وړی وړی څپی ووهلی دیتیم په سترگو کې اوښکی راغلی ، ځلیدونکی اوښکی تابه وی چې :
دپاچا دتاج له غمیو سره دښکلا مسابقه کوی .
بوډۍ چیغی کړی :
یه خلکو که تاسی دپاچا دتاج دغمیو په ځلاځانونه پوهوی نواول دیتیم داوښکو په قدر وپوهیږۍ دااوښکی ډیری قیمتی دي دپاچا دتاج له غمیو نه هم ډیری قیمتی دااوښکی وپیژنی ! دیتیم اوښکی .

دیوه مجاهد خاطره :

دوینو پړن

شیرباز « کمین زاده »

پیښور ښارته مې دتلو اراده کړی وه وروسته له ډیر انتظار څخه یو بارلرونکی موټر ته چې پکی اوسپنی باراودسرحد په لور روان ؤ ورپورته شوم پدی موټر کې دمونو ورانو شویو ټانکونو اوگاډیو ډیری ټوټی باروی اوداوسپنو دپاسه څوکسو مجاهدینو ډډه وهلی وه ما هم ځان ته یو ځای وموند او کښیناستم ، خواکی می یو معیوب مجاهد عبدالسلام ناست ؤ کله به چې گاډی جمپ وکړ نو زیات فریادونه به یې کول ، ددې مجاهد یوه سترگه نه وه اوپه تندی کی یې پرهارونه معلومیدل ، تابه ویل چې ککره یې چاپه اونگ کی تکولی ده .
په لیدو یې زما ډیره خواښده شوه دلاری په اوږدو کی ماله هغه وپوښتل داپه سترگه اوتندی دې څه شوی دي ، ده زما له پوښتنې سره سم سوړ اوسیلی وکیښ اوویې ویل :
وروره دروسي یرغلگروڅخه په افغانستان کی څوك کله په امان پاته شوی دي هغه یوه شیبه چوپ و اوبیایی خپله کیسه راته داسې پیل کړه : دمنی شپې ورځې وی چې روسی قواو زموږ په سیمه یرغل پیل کړ په موږ یې زښا ورځ توره شپه کړه ډیر بې گناه مسلمانان یې شهیدان اوبې کوره کړل موږ لس کسه مجاهدین دسیمو په دنگو دنگو غرونو کې ددښمن ترسختې محاصرې لاندی راغلو سخته بمباری

په (۵)مخ کی

دیوی لنډۍ اونا معلومی خوشحالۍ ځپو دسوچونو اوفکرونو په سمندر کې لاهوشوی سالم خان کاکا دلږ ساعت لپاره دورکی او خیالی دنیا نه دغمونو اودردونو فانی دنیا ته رابهرکړ ، ده به لاسمه ډېره هم نه وه وهلی اونه به یی په خیالی اوتصوراتی دنیا کی دکوم برج په جوړولو لاس پوری کړی ؤ چی یوه مړاوی موسکایی په وچو شونډو او زیړ زیبښلی مخ کی وځغلیده ، نه یی ځان ته پام ؤ اونه جهان‌ته ! نه یی دزوړ اوکمزوری بدن دردونو اوستړیاته فکر ؤ اونه دژوند تودو سړو وهلو ضعیفو پښو ته ! نه یی دځو شپو شوګیریو ته پام ؤ او نه یې دې دومره اوږده او نامعلوم مزل او منزل ته !

لدغی ورکی اومړ ژواندی موسکانه لږه شیبه مخکی په همدی سوچونو اوفکرونو کی لاهو ؤ چی په یواځی کورکی به دتورسرو اوکوچنیانو څه حال وی ، زما مزل به ترکوم منزله پوری جاری وی !!! اوچی په پورته اسمان کی به یی دتورو ګورو ، ګورو ، وریځو منډی رامنډی په نظر شوی نو دپکتیا هغه شړقنده بارانونه اوپولی پولی سپینی واوری چی دی پکی ورکوتی رالوی شوی ؤ سمدستی را مخی ته شوی خدای پاک دی ورته خیر کړی کوټی هم بمباریو دومره ځپلی دي چی هیڅ دکار نه دي یواځی می پریښودل خو څه می کړی وای دادوه دری میاشتی دسلیم جان هیڅ حال احوال رامعلوم نشو مجبور شوم چی پلټنه یی وکړم اخر ترڅو پوری به زه په یواځی سرد کور دادومره لوی جنجالونه اخلم دمور غریبی خو یی لاڅه کوی کله یی یو کوچنی ناروغه وی اوکله بل زما هم څه خوند نه شته ځکه چی اخر سړی یخنی خو هم ځان ته څه وایی نه باران ساه اخلی اونه واوری .

نورکله خو به یی خامخا په لس ، پنځلسو ورځو کی زموږ دحاله ځان خبراوه یابه پخپله راته اویا به یی دنورو مجاهدینو په خوله زموږ پوښتنه کوله نه پوهیږم چی څه ورپیښ شویدی اوکه هسی یی ځان له موږنه بی غمه کړیدی دی به لادخپلو دغو سوچونو اواندیښنو نه نه ؤ راوتلی چی دکور دوړو او غتو داخبری به یی په غوږونو کی زمزمه شوی.ته یواځی ولی ځی ، موږ په دې کنډواله کلی کی چاته پریږدی ؟

موږهم له ځانه سره بوځه دادومره خلك په پاکستان کی ځای شول اخر موږته به هم کومه خیمه راورسیږی ته نه وینی په وطن کی څوك پاتی دي خدای پاك مه کړه که څه رابانــدی وشول نودښخولو موهم څوك نه دي

لنډه کیسه

ویاړ

سید شهریار

